مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۸/۰۴

زمونږ تاريخي افغانستان کې د ملي بيرغ معضله

زه خوشال نه يم، چې د خپلې دغه لنډې ليکنې په عنوان کې د معضلې کلمه هم استعمال کوم. په افسوس، چې زمونږ د مظلوم افغان ملت د نورو سياسي ستونځو تر څنګ زمونږ د ملي بيرغ موضوع لا هم د فکرونو په وېش کې راګير ده او د ملت د اکثريت يا په اتفاق د رايو کې لا هم حل سوې نه ده. اوس، چې د ۴ کلونو راپدې خواء د طالب اسلامي تحريک دوهم ځل حکومتي قدرت تر لاسه کړای ده، دوی خپل بيرغ، چې سپين رنګه او د «کلمه طئيبه مبارکه» په حک کولو مزين ده، پورته کړای ده، اما مونږ وينو د ولس د اکثريت نه رضايت ورته موجود ده. يعنی ولس په غوڅ ډول هغه درې رنګه بيرغ د ملي بيرغ په حيث غواړي. د درې رنګه بيرغ د اساس په باب، چې ما خپله پلټنه وکړله، د دغه بيرغ نوښتګر او بنسټګر زمونږ استقلال بخشوونکئ خدمتګار پاچا اعليحضرت غازي امير امان الله خان (رح) ده، چې زه يې دلته هغه اصلي انځور درنو هېواد والو ته مکرراً تقديم کوم.

دا بيرغ ۶ د سنبلې ۱۳۰۷ل کال د پغمان په زر کسيزه لويه جرګه کې د پاچا له خواء وړاندې سو. د دغه درې رنګه بيرغ په منځوی برخه کې د سور رنګ په منځنئ حصه کې د غازي امير امان الله په نوښت پاس يو ستوری، بيا د لمر ختل، بيا غرونه، ښي اړخ کې د الله (ج) کلمه او کين اړخ کې د محمد(ص) کلمه ځای پر ځای سوي ول. پاچا خطاب د ملت وکيلانو ته وويل: «تر اوسه زمونږ ملي بيرغ تور او سور ؤ، خو اوس به شين رنګ او يو نشان ورسره ضميمه کړو. تور، چې مونږ محکوم ؤ، سور د خپلې آزادي لپاره مو وينې ورکړې، شين، چې اوس مونږ يو خپلواک هېواد لرو». دا وړانديز د پاچا د حاضرو د ملت د وکيلانو له خواء په اتفاق د رايو قبول او منظور شولو.(سفر های غازی امان الله شاه در ۱۲ کشور آسیا و اروپا کتاب، ۲۷۶مخ)

خو په خواشينئ سره ليکم، چې دا اماني بيرغ د اماني مستقل دولت په سقوط سره (۲۴ جدي ۱۳۰۷ل) له منځه ولاړ. حبيب الله سقو زوی، نادر شاه، داود خان، نور محمد تره کي، ببرک کارمل، برهان الدين رباني، د طالب اسلامي تحريک، يو هم د ۱۳۰۷ل د لويې جرګې د فيصلې بيرغ ته اهميت ورنکړ او خپل خپل بيرغونه يې پخپله خوښه او مزاج پر افغان ولس تحميل کړل. زه دلته د موضوع په اړه يوه خپله خاطره د ثور د کودتا څخه پس د جمهور رئيس نور محمد تره کي باب، چې ۱۳۵۷ل کې خپل سور رنګه بيرغ پر ارګ نصب کړ، ليکم. سپتمبر ۲۰۰۸ز کال زه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لیکونکی د اعلیحضرت غازي امان الله خان د لور اندیا جان په بلنه روم ایټالیا ته ورغلم. ما د جنابي په کور کي، د نورو تاریخي خبرو په ترڅ پاچا لور نه وپوښتل:

د نادرشاه د حکومت څخه پس تر نن پورې، کوم افغان حکومت او زعیم تاسو د اماني مظلومي کورنئ څخه وغوښتل، چي خپل پلارني وطن ته راسی او دلته کرار ژوند وکړی؟ اندیا جان وویل: «نه، غیر له ولسمشر نور محمد تره کي نور هیڅ افغان پاچا له مونږ څخه خپل هېواد کي د اوسېدلو بلنه رانکړله. صرف ۱۳۵۷ل ولسمشر نور محمد تره کي، مونږ پیغام راوستاوه، چي که تاسو غواړی، نو راسی، خپل هېواد کي باقي ژوند مو وکړی. مونږ ورونو او خویندو مجلس سره وکړ، فیصله مو دا وسوله، چي دا حکومت اسلامي نه ده او چپي فکر لري، مونږ ورسره بد نامه کېږو، نو مونږ نه ورځو...».

شه دا خبره دلته، اما پس ته به ماته دغه سوال ذهن ته راتللو، چي نور محمد تره کی خو د «ویش زلمیانو» د امانیستي مهم تحریک غړی هم ؤ او نادري خاندان یې په ماهیت او مضمون کي پېرندلو، هغه باید سخت اماني مُخلص احساسات درلودلای. د خپل سور بیرغ پر جای یې باید هم هغه سوچه د ۱۳۰۷ل د لویي جرګي تصویب سوی بیرغ ۱۳۵۷ل کال په ارګ رازوړند کړای وای...دا به د هغه یو تاریخي لوی مثبت عمل حساب سوی وای؟!.

دلته د پغمان د لویي تاریخي جرګي د فیصلي پر اساس، یو منطق د موضوع ماته دغه ده، چي په دغه زر کسیزه عظیمه لویه جرګه کي زمونږ د اوسني نسل پلارونه او نیکونه حاضر ول او یا یې خپل منتخب استاذی ورلېږلای ؤ. دوی ټول مسلمانان ول او په اخص ډول د نن حاکم راغلو طالبانو د مشرتابه پلارونه او نیکونو دغه جرګه کي پخپله پوره آزادي د پاچا امان الله خان دغه وړاندي کړي بیرغ ته د قبولي رایه ورکړله، نو دلته شایسته دغه ده، چي ننئ امارتي حکومت هم هغه د ۱۳۰۷ل کال د لویي جرګي بیرغ په هم هغه اصلي بڼه، چي ما لیکونکي دلته تقدیم کړای قبول او فعال کړي. په دي ترتیب زه یقین لرم، چي د افغانستان د قهرمان او تاریخي ملت حتی په مجموع کي، دا بیرغ مني او دا به د اوسني امارتي حکومت یو ملت پال خذمت وي، چي په ولس کي خپل محبوبیت او د ملي یووالي روحیه نوره هم مظبوطه کړي. د ملي بیرغ د معضلي اړوند زما دغه لنډ عرایض ول، چي تقدیم سول.

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ